AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: الکساندر هانکه
ژباړن: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

۲۰۲۲/۱۲/۲۹

# ایا د طالبانو په مشرتابه کې د مسیر بدلولو جګړه روانه ده؟

## سرچینه: فرانکفورتر الګمینه څیتونګ




په غیر دولتي بنسټونو کې د ښځو پر کارکولو بندیز:
طالبان په تدریجي ډول افغان میرمنې له عامه ژوندانه څخه ورو ورو لرې کوي، خو د نا دولتي مؤسسو له بندیز ورسته، داسي نښې نښانې شتون لري، چې د طالبانو د مشرتابه کې شخړه لا نوره زیاته شي. یوازې په دا څو ورستیو ورځو کې په افغانستان کې د ښځو پرمخ پوهنتونونه وتړل شول او ورپسې بله ضربه وارده شوه: د طالبانو د اقتصاد وزارت په یوه لیک کې د کرسمس په مناسبت خپور شوي راغلي، د افغانستان په ټولو ملي او نړیوالو غیر دولتي ادارو غږ کړي، چې تر بلې خبرتیا پورې ښځې دې له کار منع کړل شي. د دې بیان دلیل د پخوانیو فرمانونو سره ورتوالي درلود، چې اسلامپالو طالبانو په 2021 کال د اګسټ میاشت کې د واک ترلاسه کولو راهیسې د هیواد میرمنې د عامه ژوند څخه لا نورې حاشې ته لیږدوي یا محوه کوي او ښځې یې د خپلو حقونو محرمه کړې دي: دوی دا هم وایې، چې د نا دولتي مؤسسو کامندانو څو ځلې د حجاب له قوانینو سرغړونه کړې او یا پام ورته نه کوي.
په کور دننه او بهر کې غبرګونه په چټکۍ سره پیل شول او دې غبرګونو په کابل او کندهار کې د طالبانو مشرانو کې هیڅوک حیرانه نه کړل. د قهر په دې څپو کې نه یوازې لویدیځ هیوادونه او نړیوال مرستندویه سازمانونه حیران شول، بلکې د قطر امارت، چې له طالبانو سره د ښو اړیکو په درلودلو سره سره په دې اړه خپله ,, ژوره اندېښنه ,, څرګنده کړه. بیا د یکشنبې په ورځ د لومړنیو مرستو سازمانونو اعلان وکړ، چې دوی باید د نوي مقراتو له مخې خپل کارونه ودروي، پشمول د ماشومانو سیف ده چیلډرن یا د خوندیتوب مؤسسه، د ناروې د کډوالو شورا او ,, کېیر انټرنېشنل یا د پاملرنې نړیوال سازمان. دوی وایې موږ پرته له ښځینه کارکوونکو نشو کولي په افغانستان کې هغو ماشومانو ښځو او نارینه وو سره مرستې وکړو، کوم چې په افغانستان کې بیړنۍ مرستو ته اړتیا لري. دغه خبره د دریو واړو سازمانونو په ګډه اعلامیه کې لیکلې شوي دي.
دا د سختدریځو لپاره هیڅ خنډ نه دی
په حقیقت کې د غیر دولتي مؤسسو لپاره د کار کولو بندیز په دې مانا دی، چې په ډېرې برخو کې د دوی کار په عملي توګه ناشونې کیږي، په ځانګړي توګه د افغانستان په څیر یوه سختدریځه اسلامي هیواد کې مرستندویه مؤسسې یوازې د ښځینه له لارې او ډېرې کورنې د منځګړو او مرسته کوونکو ښځو له لېارې ورسېدلې شي، ځکه په کلیوالو سیمو کې په ځانګړې توګه د یوې ښځې لپاره له یوه پردې سړي سره په اړیکه کې پاتې کیدل، دا خبره اصلاً د کولتوري پلوه د تصور وړ نه ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د نجونو د لوړو زده کړو په اړه په بحثونو کې په کور دننه او بهر کې د طالبانو منتقدینو په ډاګه کړي، چې له ډاکترانو، روغتیاپالانو او قابلو پرته به اکثره افغان مېرمنې په منځمهاله توګه له روغتیایي خدماتو برخې شي.
ملګري ملتونه اټکل کوي، چې په راتلونکي کال کې به شاوخوا 28,3 میلیونه افغانان د نفوس درې پر څلورمه برخه جوړوي، په بشري خیریه مرستو تکیه ولري. شمېرې یو مبهم نظر وړاندې کوي، چې اوسنې پرېکړه شوې محدودیتونه به په ولس کې څه نورې اغېزې ولري.
دا په ښکاره ډول د طالبانو په منځ کې د سختدریځو لپاره یو څه خند دی. خو دوی په ښکاره توګه په ډاګه کوي، چې د دوی موخه د عصري نړۍ څخه افغانستان په بشپړه توګه انزوا ته بیول دي.
د ډېرې مرستندویه سازمانونو د حقیقي وتلو له امله رامینځته شوی خورا سخت اقتصادي وضعیت او بشردوستانه مرستو کې نعطاف د دوی لپاره په غوره توګه یو اړین بیرنی بد شاتګ بریښي، خو د یو ایډیالوجیکي پاکوالي لپاره مني.
په هر صورت داسې نښې نښانې په زیاتیدونکي ډول روښانه کیږي، چې د طالبانو په مشرتابه کې د عامه ژوند څخه د ښځو د ایستلو په کلیدي سیاسي مسایلو کې د طالبانو د مشرتابه په منځ کې لږ یا ډیر ازاد بحث شتون لري.
د پسرلي په پیل کې داسې باوري راپورونه خپاره شول، چې په حکومت کې اکثریت طالبان د نجونو لپاره د ټولو ټولګیو او ښوونځیو د بیا پرانیستلو په حق کې ول، خو په دې توګه د نړیوالې ټولنې غوښتنو ته ځواب ووایي.
د اوونۍ په پای کې په کابل کې یوې سرچینې، همدې ورځپاڼې ته چې د طالبانو په حکومت کې ښې نږدې اړیکي درلودې، تائید کړل، چې د طالبانو ډېری وزیرانو د ښځو پرمخ د پوهنتونونو د تړل کیدو او همدارنګه د نا دولتي مؤسسو د ورستي حکم سره مخالفت ښودلي دی.
اوس نیوکې روښانه او په ډاګه کیږي. د دې سرچینې په وینا، د طالبانو په مشرتابه کې د واک جګړه په شدت روانه ده.
د تیرو څو ورځو افراطي اقداماتو په وړاندې د امیر هیبت الله اخندزاده او د هغه په شاخوا کې د سختدریځو حلقو د قدرت په وړاندې د یو هڅې لیدل کیدای شي، چې پراګماتیک پالو طالبان د پرمختللو او پرمختګ سیاستونو پلوي دي او دوی خپل ځواک څرګند کړي دی.
د طالبانو په جوړښتونو کې، امیر او لوی مشر، چې د افغانستان په سویل کندهار کې په سخته انزوا کې ژوند کوي، تل د ورستي خبرې واک لري. په دوديز ډول د طالبانو مشرتابه د مدیریت په منځ کې عامه سر خلاصي شخړې او د ویشلو د وېرې له امله یې مخنوي کیږي.
خو بیا هم وسمهال نیوکې روښانه او په ډاګه کیږي. د اوونۍ په پای کې د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین شېر محمد ستانکزي، چې په دوحه کې د طالبانو د مذاکراتي ډلې غړی و. یو ځل بیا یوه ویډیو خپره کړه، چې په کې د نارینه او ښځینه لپاره زده کړې فرض او یو اړین مکلفیت وباله او د افغان ملت پر اړتیاوې خبرې وکړې، افغان ملت ځان د طالبانو له سختدریځه چلند له امله په زیاتیدونکي ډول په واټن کې نیولي دی.
په فقر ځپلې افغان ټولنه کې ښوونه او روزنه خورا لوړ ارزښت لري. حتی په کلیوالي خورا محافظه کارو سیمو کې ډېرې کورنۍ غواړي، خپلې لونې ښوونځي ته واستوي. ورسته له هغې چې په تیره اوونۍ کې پوهنتونونه د ښځو پر مخ وتړل شول، په ګنو ځایونو او سیمو کې پراخ لاریونونه ترسره شول، چې په بې رحمانه ډول وځپل شول.
وسمهال له بېلا بېلو سرچینو اوریدل کیږي، چې د طالبانو د کورنیو چارو وزیر سراج الدین حقاني او د دفاع وزیر ملا یعقوب غوښتل کندهار ته ولاړ شي او له امیر هیبت الله سره خبرې وکړي.
د امیر د مرستیالانو په توګه دا دواړه کسان د طالبانو له لوړ پوړو چارواکو څخه دي او په ځانګړي ډول نفوذ لرونکي حقاني ګڼل کیږي، ځکه هغه ته او د هغه ویره ونکی ,, شبکه,, د اسلامپالو تر ټولو ځواکمن پوځي جوړښت کنټرولوي او تر قوماندې لاندې لري.
ملا یعقوب تر هر څه پورته ځکه دی، چې هغه د طالبانو د پخوانی افسانوي مشر ملا عمر د زوی په توګه په طالبانو کې خور لوړ د درناوي ځای لري.
وسمهال دواړه په طالبانو کې د پرګماتیکو طالبانو په نامه منسوب شوي دي، چې غواړي له نړیوالې ټولنې سره مسئلې حلو فصل کړي او د خپلو خلکو د ملاتړ کمیدو اندیښنې لري، چې د کمیدو په لورې رواني دي.
په هر صورت دا به ولیدل شي، چې دا دواړه څومره غواړي او کولی شي، چې د امیر واک وننګوي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ